مطبوعاتي اعلاميه

د سملاسي خپراوي لپاره
د ډسامبر ۱۸مه، ۲۰۱۵

په کابل کې د ښځينه ټکنالوجيستانو تر ټولو لويه غونډه دايره شوه

(ټيک-نښن/ کابل): تقريبا ۲۰۰ ښځې په ټيک-وېمېن سرمشريزه (TechWomen Summit) کې سره جرګه شولې. دا نه يوازې په افغانستان، بلکې په سيمه، کې د ښځينه ټکنلوجيستانو تر ټولو لويه غونډه وه، چې ښځينه ټکنالوجيستانې يې ونمانځلې، او د هغوی د ترغيب او تقويې لپاره يې بېلابېل نوښتونه معرفي کړل. دا د ښځو د تقويې په برخه کې د افغانستان لپاره له مهمترينو ګامونو يو دی. افغانستان له دې لارې په ټکنالوجۍ کې د ښځو د رهبرۍ او فعالانه رول د يقيني کولو په برخه کې د نړيوال ټکنالوجيکي پرمختګ په بهير کې د منطقې په کچه مخکښ او د عمده فعال رول ترلاسه کوي.

د ټيک-وېمېن سرمشريزه چې د پنجشنبې پر ورځ د کابل په اماني لېسه کې دايره شوه يوه بې ساري غونډه وه، چې اکثريت ګډونوال يې ښځې وې. دا مېرمنې له بېلابېلو اړخونو لکه مدني ټولنې، ټکنالوجۍ، صنعت، پوهنې او حکومت نه سره په يوه پلټفارم راټولې شوې وې. دوی په مختلفو بحثونو کې برخه واخيستله، خپل ټکنالوجيکي محصولات په نمايش کښېښودل، او د پايداره انکشاف، ثبات او سوکالۍ کې يې د ښځينه ټکنالوجيستانو اساسي رول تر بحث لاندې ونيولو.

کليدی پرانستوني وينا د افغانستان لومړۍ مېرمن، بي بي ګل رولا غني، وکړه، چې د خپلې وينا په ترڅ کې يې ځينې اساسي مشاهدات وړاندې کړل. مېرمن غني وويل چې ټکنالوجي د پوهې د شريکوني له لارې د مېرمنو په تقويه کې بېلابېل فرصتونه وړاندې کوي، ټکنالوجي به افغانستان پر يوه داسې اقتصاد بدل کړي، چې پر ابتکارونو به راڅرخي. دوه نور لوړ پوړی ويناوال د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزير، ښاغلی عبدالرزاق واحدي، او د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزيره، آغلې نسرين اورياخېل، ول چې د خپلو خپلو سکتورونو په اړه يې نظريات او پلانونه توضيح کړل. د ماسپښين موضوعي ناستو د ټولنې د بېلابېلو برخو مشران او د نړيوالې ټولنې استازي د ويناوالو په توګه راټول کړل.

دغه سرمشريزه، د ټيک-نښن، چې يوه کابل-مېشتې د ټکنالوجۍ او کارپنځګرۍ (entrepreneurship) د ملاتړ اداره ده، او ټيک-وېمېن افغانستان، چې د ښځينه ټکنالوجيستانو شبکه ده، لخوا جوړه شوې وه. نور همکار ارګانونه د افغانستان د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ اتحاد (نېکټا)، او په کابل کې د بريطانيې سفارت ول. د غونډې مطبوعاتي همکاران پژواک خبري آژانس او د افغانستان د مدني ټولنو فډېرېشن (فکس) ول او د غونډې سپانسر د آی-او ګلوبل انټرنټي شرکت و.

د ټيک-وېمېن سرمشريزې مقاصد دا ول: د ټکنالوجۍ په رشته کې د فعالو مېرمنو شبکه غځول او تقويه کول؛ د ښځو تشويق چې ټکنالوجي د تحصيل او کار رشتې په توګه ومني؛ د راتلونکو داسې پاليسيو او پروګرامونو لپاره اساس جوړول، چې په ټکنالوجۍ کې د ښځو ګډون يقيني کړي؛ د افغان مېرمنو د حالت په بهترونه کې د ټکنالوجۍ مهم رول ارزول؛ او د ټکنالوجۍ او مېرمنو پر موضوعوعاتو دوامدار بحث او مباحثې ته لار هوارول. عمر منصور انصاري، د ټيک-نښن رئيس، د غونډې د معرفی په موخه به خپله وينا کې وويل. "ټيک-وېمېن سرمشريزه يوازې يوه غونډه نه، بلکې د مېرمنو د ژوند-وسيلو او ميعشت د بهترونې لپاره يو پلټفارم دی. له داسې يو شانداره پيل سره تاسې د افغانستان انځور بدل کړ."

ټېک-وېمېن سرمشریزی (TechWomen Summit) دا وښودله چې د افغانستان ډېرې وګړي د دوه کلیدي برخو، د ټکنالوجۍ ارتقاء او د مېرمنو انکشاف، له لارې د خپل هېواد د پرمختګ لپاره ژمن ژمن دي، که څه هم په نړیوالو مطبوعاتو منفي ښودل کېږي. دغې سرمشریزې مطمئنا په افغانستان کې د ټکنالوجۍ او مېرمنو لپاره یو فعال او خوځند چاپېریال ایجاد کړ.

د ټېک-نېشن په اړه:
ټېک-نېشن یو کابل مېشتی د ټکنالوجۍ، مشاورې او کارپنځګرۍ (entrepreneurship) ملاتړی شرکت دی. دا د خیال بافانو او تغییر سازانو یوه داسې ټولنه تشکیلوي چې له ټکنالوجۍ د تعلیم، تجارت او ټولنې د انکشاف لپاره کار اخلي. ټېک-نېشن لوېه موخه افغانستان پر یوه ټکنالوجي-محوره سیمه بدلول دي.

د ټېک-وېمېن افغانستان په اړه:
ټېک-وېمېن افغانستان د ګنو دوایرو لخوا جوړ شوی یو داسې پلټفارم دی چې د ببلابېلو ټکنالوجیو په استفاده په ټکنالوجۍ، حکومتولۍ، مدني ټولنې او صنعت کې د مېرمنو نقش برجسته کوي. دا په ټکنالوجۍ کې دخیلو مخکښو ښځینه رئیسانوو، تجارت پېشه وو، محققانو، پوهانو، سافټوېر انجینرانو، مدیرانو او محصلانو څخه جوړ پر مېرمنو متمرکز او د مېرمنو لخوا رهبري شوی پروګرام دی. ټېک-وېمېن افغانستان د ټېک-نېشن، د افغانستان د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ ملي اتحاد (نېکټا) او اوپن سورس افغانستان یو ابتکار دی.

د مطبوعاتو لپاره اړیکې:
کامیني مېنن
ایمېل: kmenon@technation.af
فون: 0780598958